# کاظم خان شیدا او تخیلاتي شاعري

## Kazim Khan Shaida and Imiginative Poetry

Hassan Zaib[1]
Dr. Asal Marja (Muhib Waizr)[2]

**ABSTRACT:**

Poet founds the charateristics of things in the Universe through imagination and extract new meanings out of them. Imagination is a poetic power and God gifted quality which can be improved and polished through knowledge and experience. Poetry is incomplete without imigination. Sometimes, the poet uses his imagination to speak in such a way that an ordinary reader cannot understand its literary meaning. Poet give new shape to the concepts in his mind and context though imaginative power. Kazim Khan Shaida, a well-known classic Pashto poet is famous for intricacy and complexity in his poetry. This study have done by applying closed reading method and found that Shaida's intricacy posits in his stronger imaginative power; and for this reason, understanding his poetry and extracting plausible meaning out it is not easy for an ordinary reader. His literay work is one of the best example of skilled use of imagination in poetry.

**Key Words:** Poetry, Imagination, Pashto, Kazim Khan Shaid, Concept

تخیل یو شاعرانه قوت دے چي د هغې لهٔ وجې یو شاعر په کائنات کښې د موجودو څیزونو په ځانګړتیاو کښې کمے زیاتے راولي او نوې نوې معنې ترې راوباسي. دا یو خدائي ورکړه ده چي په محنت سره نهٔ شي موندلے کېدے خو دومره ده چي د علم، تجربې او محنت سره وده موندلے شي. شاعري د تخیل نه بغېر پیکه او نیمګړې وي. د چا چي څومره تخیل لوړ وي نو دومره یې د کلام معیار هم اوچت وي. کله کله شاعر د تخیل په مرسته داسې وېنا وکړي چي عام لوستونکے یې هډو په معنا نهٔ پوهېږي. په دریاب لغت کښې د تخیل په حقله لیکلي شوي دي:

"تصور، خیال، قیاس، خیالي تصویر" (1).

[1] M.phil Scholer, Shaheed Benazir Bhutto University, KPK
[2] Assistant Professor, Bacha Khan University, Charsadda, KPK

په عربۍ ژبه کښې تخیل د خیال، سوچ او تصور په معنا اخستے شي. تخیل د ذهن طاقت او قوت ته وئیلے شي . د دې په برکت ادیبان د یو چاپېرچل یا یوې واقعې خیالي انځور جوړوي او د لیک په ذریعه یې مخې ته راوړي. دا د موجوده، تېرې او راتلونکې یعنې حال، ماضي او مستقبل درې واړه زمانو سره تعلق ساتي. علم او تجربه د تخیل په پرمختللو کښې کردار لوبوي"(2).

تخیل او تعقل د یو بل برعکس نۀ دي. تخیل پخپله هم یو تخلیقي تعقل دے. داسې هم نۀ ده چې تخیل د یادولو په شان وي چې صرف د تېر وخت تجربې د ځان سره خوندي کوي. تخیل خو په عناصرو کښې بدلون راولي او نوي نوي څیزونو ایجادوي. تخیل د حال، ماضي او مستقبل سره تعلق ساتي" (3).

په ادب کښې تخیل د زېږوني هغه زور ته وائي د کوم په وجه چې یو ادیب د خپلې تجربې په وجه مختلف څیزونو ته یو نوے شکل وروبخښي" (4).

تخیل د فکر او خیال زور دے د کوم چې د شعور په سطح باندې ولاړ وي او د ذهن نه بهر چې کوم مظهرونه وي د هغې ادراک کوي او بیا هغه هر څۀ له منظم شکل ورکوي او د پیکر په ذریعه یې بیانوي" (5).

تخیل یو داسې تخلیقي زور دے چې د دې په برکت په کائناتو کښې د موجود څیزونو په خاصیتونو او صفتونو کښې کمے او زیاتے کولے شي او یو نوے څیز ترې جوړولے شي چې هغه یا خو په حقیقت کښې وي یا امکان لري.تخیل نوي نوي مضمونونه زېږوي او یا زوړو مضمونونو ته نوې نوې معنې ورکوي (6).

د شاعرۍ د پاره ورومبے او تر ټولو مهم څیز تخیل دے. تخیل ته په انګریزۍ کښې **Imagination** وائي. د شاعر او غېر شاعر تر مینځه د تخیل په وجه توپیر کولے شي. د کوم شاعرچې تخیلاتي زور چې څومره ډېر وي هغه هومره به یې د شاعرۍ معیار اوچت وي. د تخیل بناپېرۍ یو شاعر ته د مور په خېټه کښې ورکولے شي. د چا چې په پېدائشي توګه دا بناپېرۍ نۀ وي په برخه رسېدلې نو هغه هیڅ کله هم تکړه شاعر نۀ شي ثابتېدلے. تخیل شاعر د وخت د زولنیو نه ازاد کړي، تېر او راتلونکے وخت ورله موجوده وخت ته راوړي. د ادم بابا او د جنت واقعه په داسې انداز کښې بیان کړي لکه دا هر څۀ چې یې پخپله لیدلې وي. دتخیل پېژندګلو کول هم اسان کار نۀ دے لکه څنګه چې د شعر پېژندګلو کول اسان نۀ دي. د تخیل لۀ برکته په ذهن کښې د شتون لرونکیو معلوماتو او

تجریبو یو نوے شکل بیانولے شي او دغه بیان له د هغه لفظونو جامې ورکړے شوې وي چې عامو لوستونکیو ذهنونه ورته هډو رسي هم نهٔ او هیڅ مقصد ترې نهٔ شي اخستے. کله خو د شاعر د بیان طریقه داسې پېچلې او ناشنا وي چې لوستونکے کهٔ پخپله شاعر نهٔ وي او یا د شعر و ادب علم نهٔ لرې نو هډو پوهېدلے پرې نهٔ شي. څرګنده شوه چې تخیل هغه څیز دے کوم چې کله په خیالونو او تصور کښې کمے زیاتے کوي نو کله په لفظونو او عبارتونو کښې. دا قوت د شاعرۍ لهٔ پاره تر هر یوهٔ څیز نه زیات ارزښتناک دے"(7).

د څیزونو د دوباره منظم کولو او دغه شان ترې د یو نوي عکس جوړولو ته تخیل وائي. په کوم تخلیق کښې چې د تخیل څخه کار اخستے شوی وي نو په هغه تخلیق کښې به د فنکار جذبه او احساس هم شامل شوي وي. ځینې لفظونه جامدې معنې لري او دغه معنې د هر چا او هر وخت لهٔ پاره یو شان وي او په تعقل باندې ولاړې وي. دغه رنګې ځینې لفظونه بدلیدونکې او ډېرې معنې لري . دغه دوېم قسم معنې د تخیل سره نزدې رشته لري. چې یو فنکار د تېرې شوې زمانې په ښکلې او زړهٔ راښکونکیو واقعو باندې سوچ وکړي او د نورډول سینګار لهٔ پاره پکښې د جذبې او احساس عناصر ورګډ کړي او سر دوباره یې په یو نوي رنګ ترتیب کړي نو دغه تخیل دے. تخیل د مبالغې نه هم مرسته اخلي. د استعارو، رمز او علامتونو مرسته پکښې هم په کار راوستے شي"(**8**).

د تخیل کار دا دے چې په دماغو کښې شتون لرونکي تصوراتو ته یو نوے شکل ورکړي او په نوي انداز کښې بیان کړي. تخیل یو فطرتي څیز دے یا به داسې ووایو چې خدائي ورکړه ده چې د محنت او تجربې په وجه نهٔ شي موندلے خو پرمختګ ورسره کولے شي. د شاعر چې تخیل څومره زوراور وي دومره به د هغهٔ د شعر وزن هم زیات وي. د تخیل نه بغېر شاعري نیمګړې او بې خونده وي. په شاعرۍ کښې د خوند رنګ پېدا کول او لوړ معیار ته رسول د تخیل کار دے. کله کله شاعران د خپل تخیل په زور داسې خبرې بیان کړي چې د انسان عقل ورته کار پرېږدي. د ژوند واقعات په دلچسپ انداز کښې بیانول شاعري ده او تخیل یوه داسې وسیله ده چې په بیان کښې دلچسپي پېدا کوي نو ځکه خو واضحه شوه چې تخیل د شاعرۍ لهٔ پاره یو ډېر ارزښتناک څیز دے.

کاظم خان شېدا چې کلاسیکې دورې یو پېژندلے شاعر وو او د دیوان څښتن دے د خپلې مشکل پسندۍ لۀ پاره شهرت لري. د شېدا د مشکل پسندۍ یوه وجه دا هم ده هغۀ تخیل ډېر اوچت پرواز کوي او لۀ دې وجې د هغه په شعر پوهېدل، معنا ترې راویستل او وېخ ته یې کوزېدل د یو عام لوستونکي د وس کار نۀ دے. د هغۀ د تخیل ملکه یې ډېره زوروره وه. هغه په خپل کلام کښې د تخیل نوې نوې تجربې کړې دي او کلام یې د تخیل یوه غوره نمونه ده او چې کله یې کلام ولوستلے شي نو لوستونکے ورته ګوته په خولۀ شي. په دې مقاله کښې د اختصار لۀ وجې د هغۀ د کلام نه په شمار یو څو تخیلاتي شعرونه وړاندې کولے شي.

هغه چې د خپلو خپلوانو د سرد جوشۍ ذکر کوي نو د تخیل په زور ورته د لفظونو جامې داسې اغوستوي.

"د دریاب د سرد جوشۍ د حباب زړۀ چوي
شېدا قطع دې امېد بویه د خپلو"(9)

اوس کۀ غور وکړو نو دریاب خو نۀ د سرد جوشۍ نه خبر دے او نۀ بړبوړکۍ کوم شعور لري چې درد به محسوس کړي او زړۀ به یې وچوي خو شېدا په دې بره شعر کښې په تخیلاتي توګه وائي چې د دریاب لۀ اوبو نه زیږېدلې بړبوړکۍ سره پخپله د دریاب اوبۀ وفاداري نۀ کوي نو ځکه د بړبوړکۍ ژوند په یو څو لمحو کښې ختم شي. دلته شېدا د دریاب او د بړبوړکۍ د خصوصیاتو نه یو جدا معنا راوباسي او دغه شان د انساني ټولنې د یو حقیقت نه پرده اوچتوي.

په یو شعر کښې د عندلیب او د ګل ذکر کوي:

"هیڅ ناله نشته د ګل په سرو لمبو کښې
عندلیب په چغو سر ولې غوغا کا"(10)

د ګل سور رنګ لکه د اور د سرو لمبو په شان وي خو ګل هیڅ کله په دغه لمبو کښې ژړلي نۀ دي او نۀ یې فریادونه کړي دي. خو کۀ بلبل ته نظر وکړے شي نو هر وخت په چغې وهي، ژاړي او په انګولا سروي. دا خو یو حقیقت دے چې بلبلان ګلونو له راځي او د ګلونو رنګ سور وي خو دلته چې شېدا کوم بیان کوي دې ته بیا عقل په اسانه نۀ رسیږي ځکه چې د ګل سور رنګ د اور په د سرو

لمبو په معنا اخستل او دغه شان د بلبلانو ژړل او چغې وهل د لوړ تخیل په برکت باندې کېدے شي.

د شېدا تخیل چې کله د زمکې نه بره په فضا کښې الوت کوي نو د هغه ځاے نه د زمکې مشاهده کوي او دغه مشاهده او تجربه د شعر په ژبه کښې بیانوي لکه چې وائي:

"د چمن طوق یې ولې گردن خم کړ
لۀ ازاد سره چې سروه همسري کا"(11)

سروه په ونه کۀ ډېره لوړه وي خو سر یې راښکته کړے وي او د بکیاڼه کۀ لوړه ونه نۀ لري خو سر یې هسک وي نو دا خو د دغه دواړه بوټو خپل نسلي خصوصیات دي. د یو عام وګړي هډو دغه خبرې ته فکر نۀ وي چې سروه کۀ دنګه ده خو د غلامۍ ژوند یې دے یعنې چمن کښې ولاړه وي بل څوک ورته اوبه ورکوي او د هغه اوبو په برکت نشونما کوي او بکیاڼه په غرونو کښې بغېر د چا د مرستې نه زرغونېږي او غټېږي ځکه خو کۀ په قد کښې د سروې برابر نۀ ده خو بیا هم د سروې په شان ټیټ سرې نۀ ده. ونې او بوټي په حقیقت کښې د غلامۍ او ازادۍ نه هډو خبر نۀ وي خو کۀ غور وکړے شي نو کوم انسان چې د خپل ژوند اسانولو د پاره د بل د سهارې محتاج وي او د بل غلامي کوي نو کۀ هغه ته ډېر هم مراعات ورکړے شوي وي د ډېرو څښتن شوے هم وي خو بیا هم هغه د نورو په وړاندې سر ټیټے ولاړ وي او د غلامۍ ټاپه پرې لګېدلي وي. شېدا د تخیل نه کار اخلي او په اشارو کښې د انساني خصوصیاتو ذکر کوي.

شېدا کۀ یو خوا په کاڼو بوټو باندې غور کوي او د تخیل په زور یې د کړۀ وړۀ نه معنې راوباسي نو بل اړخ ته د اوچت اسمان مشاهده کوي او د تخیل په مدد سره یې د خپلو شعرونو برخه ګرځوي لکه چې وائي:

"ورځې ته ګوره چې ګرم رویه شي
په درست جهان کښې څۀ شانې لویه شي
وړه شي څۀ رنګ په سرد مهرۍ کښې
نتیجه یا به له خپل خویه شي"(12)

دا رباعي د شېدا د تخيل يوي غوره نمونه ده.هغه وائي چې چې ورځ تودیږي نو جسامت يې ورسره غټیږي خو چې کله د يخېدو په لوري روانه شي نو بيا وړوکي کيږي. مطلب دا دے چې جذبات د ژوند د پاره مهم دي او چې کله جذبات يخيږي نو ژوند پيکه کيږي. يا دا هم وئيلے شو چې شان و شوکت د جوش او جذبې سره تړون لري. د ورځې د لنډېدو او اوږدېدو نه دغه مطلب اخستل بغېر د اوچت تخيل نه مکمن نۀ دي.

د شېدا تخيل هم په کاڼو بوټو او نمر سپوږمۍ کښې زغلي او د لوستونکيو لۀ پاره نوي نوي شعري مضمونونه زيږوي او هم د سيندونو سمندرونو مشاهده کوي او خوندور خيالونه د شعر په لفظونو کښې رانغاړي:

په بل شعر کښې د شېدا تخيل لټوو:

"د ازادو لمن کله په خار نخښلي
د نسيم غوندې ګذر کړم په ځنګلو"(13)

هوا په ګڼ ځنګل کښې اذاده روانه وي او دا د ګېس يو خصوصيت دے چې د يو ځاے نه بل ځاے ته تلے شي. هوا نۀ خو يو ټهوس څيز دے چې په بل څۀ کښې به ونخښلي او نه يې د نخښتلو څۀ امکان وي خو شېدا دغه هر څۀ له نوے رنګ ورکوي او وائي چې د سحر باد يو بې نقصانه څيز دے هډو چا ته څۀ ضرر نۀ رسوي. د خپل کار سره کار ساتي، په غلا ګرځېدل يې په خوئې کښې نشته، چې چرته ځي نو په ډاګه باندې ځي او د خپلو راتلو احساس خلقو ته ورکوي نو ځکه ورته په ګڼ او ګور ځنګل کښې هډو څۀ خنډ نۀ وي چې د لارې د بندولو سبب يې وګرځي او خپل سفر اذاد کوي. د شېدا مشاهدې ته او بيا د هغۀ تخيل ته کله کله د انسان عقل هم کار پرېږدي چې څۀ رنګه هغه د کائنات د بېلا بېل څيزونو په خصوصياتو باندې غور کوي او د دغه خصوصياتو نه نوې معنې اخلي او خپل پېغام خوندور او رنګين کوي او د لوستونکيو او اورېدونکيو لۀ پاره يې د توجوه سبب ګرځوي. د دې شعر نه انزاده کيږي چې شېدا څۀ رنګې د ذهن نه بهر څيزونه منظم کوي او د پېکر په زريعه يې لوستونکيو ته وړاندې کوه. د شېدا شعرونه د نصيحت نه ډک وي او د ټولنې ښۀ او بد پکښې په ګوته شوي وي.

د غه شان د ځیزونو د خصوصیاتو په لړ کښې د اضافي کولو او نوې معنو اخستو سلسله د شېدا په کلام کښې ځاے په ځاے روانه ښکاري لکه په یو ځاے کښې وائي:

"کا اثر د درد ناله په سختو زړونو
تل د دف په وهل چغې جلاجل کا"(14)

تمبل چي وهلے کیږي نو په تمبل پورې لګېدلي ګونګري هم اوازونه کوي چي د موسیقۍ د خوند زیاتولو په کار راځي خو شېدا په خپل تخیل کښې د دې نه یوه بله معنا اخلي او وائي چي ګذارونه په تمبل کیږي خو دغه سخت ګونګروګان چي د سختو دهاتونو نه جوړ وي بیا هم د د تمبل دغه درد محسوسوي او ژړا پرې کوي. د ځیزونو خیالي تصویر جوړول او نوے شکل ورکول د تخیل کمال دے چي په دې شعر کښې په اسانه ښکاري.
په یو بل شعر کښې څۀ په دا ډول د تخیل نه کار اخلي:

"په ادا د تورو سترګو دلبري کا
کۀ د هند جادوګران جادوګري کا"(15)

د محبوب د تورو سترګو اداګانې د مئینو په زړونو اثر کوي او مینه یې لا زیاتوي خو شېدا د دغه اداګانو نه د هند د جادوګرو د جادو مطلب اخلي او معلومه ده چي د هند او په هند کښې بیا د بنګال جادو په ټوله نړۍ کښې مشهور دے او د دغه جادو اثر چي کله په چا شوے دے نو سلامت ترې نۀ دے پاتې شوے. د هند معنا هم تور ده او د هند خلق هم تور دي او سترګې هم توري دي او بیا د سترګو او د اداګانو اثر هم مېئنان خرابوي او جادو هم دغه شان اثر لري نو ځکه د شېدا تخیل په حرکت کښې راځي او دا رنګې شعرونه یې د دیوان برخه جوړیږي. په یو شعر کښې وائي:

"د نمر اور یې په سر بل په فریاد غرونه
دا سنګدل مګر ستم په درست جهان کا"(16)

دا یو فطرتي عمل دے چي نمر ټولې دنیا ته رڼا او ګرمي ورکوي او خاص د غرونو سرونه بیا نمر ته ډېر مخامخ ځکه وي چي نمع د راختلو نه تر پرېوتلو پورې د غرونو سرونو ته مخامخ وي او یا دا هم ده چي غرونه د خپل لوړوالي په وجه نمر

ته نږدې وي نو د نمر تاو ورته هم زیات رسي خو شېدا د دغه فطرتي عمل نه یو ځانګړے تخیلاتي انځور جوړوي او دغه د نمر شغلې په غرونو د ظلم په شکل بیانوي او وائي چې د دغه ظلم د لاسه غرونه هر وخت په ژړا وي خو بیا دا د کاڼو په شان زړونه لرونکي غرونه د خپل حال نه هیڅ عبرت هم نۀ اخلي او په نورو باندې ظلم کوي یعنې سېلابونه ترې راځي، زلزلې هم د غرونو په وجه کیږي چې نور کائنات او مخلوق ترې په عذاب شي. دا رنګې شعرونه وئیل د شاعر په تخیل باندې دلالت کوي. په یو بل شعر کښې یې تخیلاتي قوت ځېر:

"د حباب په شان یې زړۀ نمایان نۀ شي
چې سینه لۀ درده چاکه بېدلان کا"(17)

بړبوړکې د اوبو په سر د یو خاص طبیعاتي عمل په نتېجه کښې د ډېر لږ وخت د پاره او عارضي جوړېدونکے څیز دے چې د خپل خصوصیت تر مخه د دغه لنډ وخت نه پس خامخا چوي او وجود یې ختمیږي خو د شېدا تخیل د دغه عمل نه ځانګړې معنا اخلي او دغه بړبوړکۍ د اسوېلو او دردونه نه جوړه بولي او د مئینانو مثال ورسره وړاندې کوي. څۀ رنګې چې مئېنان هم بېدل وي یعنې زړۀ یې محبوب له ورکړے وي دغه شان بړبوړکۍ هم زړۀ نۀ لري او د زړۀ په ځاے یې تش اسویلي پاتې وي نو چې کله د مئېن سینه وچوي نو دننه پکښې زړۀ نۀ وي لکه څنګه چې بړبوړکۍ وچوي او دننه پکښې زړۀ نۀ وي. د شېدا مشاهده د ستائلو وړ ده. یو بل شعر یې د تخیل په تله کښې اچوو:

"عندلیب ګڼه مغرور په بد مستۍ کښې
د غونچې شیشه کارونه د سبو کا"(18)

څنګه چې ووئیلے شو چې تخیل هغه ذهني قوت دے د کوم په زور چې شاعر او ادیب د څیزونو خیالي تصویر وړاندې کوي او نوي څیزونه ایجادوي نو په دغه تناظر کښې کۀ دې شعر ته غور وکړو نو شېدا به د لوړ تخیل څښتن ثابت شي. وس عندلیب د غرور نه څۀ خبر دے او یا غنچه د شرابو او د مستۍ ورکولو سره کومه تړون لري چې شېدا وائي چې د غنچې شیشه د شرابو د جام په شان ده چې عندلیب مست کړي او مغرور یې کړي. بلها ډېر شعرونه یې د تخیل نمونې دي لکه دا شعر:

"پرېشانې شوې د تا مشکینې زلفې
کۀ عالم شو د ختن بې بندوبسته"(19)

یو خوا کۀ دا شعر د مثالیه اسلوب یوه نمونه ده نو بل خوا پکښې د شېدا د تخیل څرک هم ښکاري. شېدا یو ناممکن کار د ممکن کولو هڅه کوي او وائي چې په چاپېرچل کښې ډېره ښکلې خوشبوئي راخوره شوه نو دا خوشبوئي خو یا ستا د زلفو ده چې پرانیستې شوې دي او یا د ختن علاقه خوره شوې ده چې ټولې دنیا ته د مشکو خوشبو ورسېده.

په یو ځائے کښې وائي:

"راشه ګوره د کاکل سیاه مستۍ ته
یو قدم په لاره تلے نۀ شي بې دوشه"(20)

شېدا په دې شعر کښې زلفې مستي او د نازونو اداګانو نه ډکې بولي او وائي چې دغه مستي یې تر دې حده رسېدلې ده چې د اوږو سهاره ورسره نۀ وي نو زلفې هډو یو قدم هم پخپله نۀ ځي. د خصوصیاتو نه نوې معنې اخستل او خیزونه په نوي شکل کښې ښودل د شېدا شان د لوړې درجې د شاعر کار دے.

د شېدا دغه کمال د هغه په ټوله شاعرۍ باندې محیط دے. په دغه ترڅ کښې یې دا شعر د نظر لاندې راولو:

"د افتاب په کمند نۀ خېژم اسمان ته
نۀ رېدم بار لکه شبنم په دوش د ګلو"(21)

نمر هم عارضي وي او د وخت سره سره خپل ځائے بدلوي او بیا مازیګر خو مکمل ورک شي او دغه شان ګلونه هم د نزاکت لۀ پاره پېژندلے شي او هیڅ بوج نۀ شي اوچتولے خو په حقیقت کښې پرخه په ګلونو پرېوتل او بیا د نمر د شغلو په وجه د پرخې وچېدل یو سائنسي او فطرتي عمل دے. شېدا چې د دغه عمل نه کوم مطلب اخلي نو انساني عقل ورته په اسانه نۀ رسي. شېدا په دغه تشبیهاتو او مثالونو سره د خودۍ یو درس ورکوي او د خپل تخیل په برکت یو خوندور مضمون زېږوي. د دې شعر نه د شېدا د ذهني او شعوري سطحې اندازې کېږي.

غرور مې لکه نے مصلحت نۀ دے
په سینه کښې مې ناله پرېږده مستوره"(22)

شېدا خپل درد او چغې د خلقو نه پټې په پرده کښې ساتي ځکه چې د ژړا په وجه او د غم د بیانولو او شریکولو په وجه زړهٔ سپک شي او غم کم شي. شېدا نهٔ غواړي چې د د هغهٔ دردونه دې کم شي هغه د عشق د هر یو تکلیف نه خوند اخستل غواړي. شېدا د دغه انکار د پاره د شپیلۍ مثال ورکوي چې شپېلۍ هم لکه چې په سینه باندې سورۍ سورۍ وي خو چې غم یې کله نور زیات شي نو چغې وهل پېل کړي. دا هم د تخیل په زور بیان شوې خبره ده ګني نو شپېلۍ خو نهٔ لهٔ درده خبر وي او نهٔ د هغې شپږ سوري لهٔ کوم عشق لهٔ وجې جوړ شوي وي. دې رنګه خیالونو او مضمونونو ته د یو عام لوستونکي ذهن نهٔ رسي تر څو چې یې د شعر و شاعرۍ سره واسطه نهٔ وي راغلي او بلها مطالعه یې نهٔ وي.

لنډه دا ده چې شېدا په یوه علمي او ادبي کورنۍ کښې سترګې غړولې وي او د هغهٔ په ختهٔ کښې ادبي او تخلیقي صلاحیت اغېړلے شوے وو. هغه کهٔ یو خوا ته د مشکل پسند شاعر، د مثالیه اسلوب د استاذ، د یو وتلي تمثیل نګار په توګه پېژندلے شي نو بل خوا ته یې لوړ تخیل هم ستائیلو وړ دے. تخیل هغه ته په فطرتي توګه مېلاو شوے وو او بیا یې د خپل علم، تجربې او مشاهدې په زور تر هغه حده رسولے وو چې مقابله یې د پښتو نه پرته په نورو ژبو کښې هم په اسانه نهٔ شوه کېدے. د هغه تخیل ته د لوستونکي عقل تمام شي. کهٔ د پښتو ادب استاذان د شېدا د شعرونو تشریح ته توجوه ورکړي نو کېدے شي چې څېړنکارانو ته نوې نوې لارې هوارې شي او د شېدا د تخیلاتي رنګونو رابرڅېره کولو سره سره د شېدا نور هم ګڼ اړخونه په ډاګه شي.

## حوالې


(1) قلندر مومند او فريد صحرائي، پښتو لغت درياب، خيبر پښتونخوا ټيکسټ بک بورډ پېښور، 1994، مخ331

(2) *ابوالاعجاز حفیظ صدیقی، کشاف تنقیدی اصطلاحات، راولپنڈی، طبع دوم، 2018، ص34*

(3) لال پاچا ازمون، منظوم انځورونه، د ختيزې سيمې د ليکوالو او ژورنالېستانو خپلواکه ټولنه، ننګرهار، افغانستان، 1839، مخ66

(4) Encyclopaedia Britannica, Volume 1, 1964, P 53-54

(5) *سلیم شہزاد، فرہنگ ادبیات (لسانی و ادبی اصطلاحات کا توضیحی و تنقیدی مطالعہ)، قومی کونسل برائے اردو زبان، نئی دہلی، بھارت، 1984، ص246*

(6) قيصر اپريدے، ليک او تخليق، 2022، مخ26

(7) *الطاف حسین حالی، مقدمہ شعر و شاعری، خزینہ علم و ادب، لاہور، 2001، ص41-44*

(8) ډاکټر حنيف خليل، د ښکلا هينداره، دانش کتب خانه، پېښور، 1998، مخ67-68

(9) کاظم خان شيدا، ديوان کاظم خان شيدا، مرتبه، همېش خليل، پښتو ادبي مرکز، بنو، مخ:55

(10) ايضاً، مخ 23 .

(11) ايضاً، مخ 25

(12) ايضاً، مخ183

(13) ايضاً، مخ 52

(14) ايضاً، مخ26

(15) ايضاً، مخ24

(16) ايضاً، مخ29

(17) ايضاً، مخ 30

(18) ايضاً، مخ30

(19) ايضاً، مخ58

(20) ايضاً، مخ76

(21) ايضاً، مخ52 (22) ايضاً، مخ66.